AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۴/۰۲/۰۷

# قاموس که دائرة المعارف؟

په تولیزه توګه؛ په هنري، تخلیقي او ادبي لیکنو او پنځونو کې ډېر کله عاطفه او سلیقه غالبه ښکاري او خپل رنګ لري. که د مشهورو ادیبانو شاعرانه ذوق او د هنرمندانو ځانګړي سبک ته ځیر شو، نو حتما به مو تنوع، شعوري ځانګړتیا، ګړیدلي احساس او د انفرادیت جذبه ترسترګو شي. خو په اکاډمیکو لیکنو، څیړنیزو بحثونو او ژباړل شوو آثارو کې خبره بیخي جلا ده؛ دلته روایت او درایت برلاسي وي او عاطفه په کې ځای نه لري.

ټولو ته به په یاد وي چې حفیظ الله امین د خپلې خونړۍ واکمنۍ په پیل کې څو فرمانونه صادر کړل چې یو یې د جلال آباد تاریخي ښار، د ترون ښار په نوم نومول وو. زه دې بحث ته نه ځم چې جلال آباد د مغول واکمن، جلال الدین اکبر په خاطر دی او که د پیر روښان / بایزید انصاري د زوئ، جلال الدین په خاطر دی؟ خو جلال آباد هیڅکله ترون ښار نه وو او نه به شي.

د همدې اصل له مخې، ویلای شم چې قاموس کبیر افغانستان د ښاغلي انجنیر قیس کبیر د نوښت او سرپرستۍ لاندې ډېر اوږد مزل کړی او منزل ته د رسیدو په دې سټړي او ناتمامه سفر کې د هیواد تکړه کدرونو، لیکوالانو او علمي شخصیتونو ورسره برخه اخیستې ده. دا نوم (قاموس کبیر) اوس د لوستونکو د ذهن په حجرو او د زړونو په تاخچو کې ځای نیولی او غوړونه یې ورسره اشنا دي.

زه د دې قاموس د لیکوالي ډلې / هیئت تحریر د یوغړي په توګه په ټینګه باور لرم چې د نوم بدلول د ممکني ګټې په ځای، ښایي تاوان ولري. البته زه دا منم چې دائرة المعارف / Encyclopedia ده او قاموس/ Dictionary ده چې هر یو یې خپل تعریف او خصوصیت لري او توپیرونه یې هم څرګند دي.

مینه او مننه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ